ستړې یې زمونږ د لارې خنډ نه دے
چې اشاره ورسته ذره اوکړمه
نو د بنګړو ناره په یو دو را اوځي

○

زړه اخر صبر کړي سلګو کښې واځي
کوه چې هر څه سره مینه کوے
خو شپې له ځان کور ته را اورسوه

○

په هیڅ فریب دلاسه کیږمه نه
کټ چې پردے شو خو د نیمې شپې شو
سترګې مې نه ورځي که ډېر ستړے یم



زړه کښې یې اور د مینې بل ځنګله شي
د چا په کور کښې چې شپرېږي زما
لوږه ژوندی ، انغرې مړه پراته وي

○

ځمه سلام د هواګانو په رُخ
یم د سپیریانو د ډولۍ په مثال
ځان راته مه سپاره بې کوره نه شي

○

شو ناره مې رو رو د بچي شنه کېږي
اوزه په دې سوځ کښې ژاکېږمه چې
دوه تورې یو تېکي کښې ځائے ځنګله شي

(c) ketabton.com: The Digital Library
Scanned by CamScanner

څوک تري خبر دي
د ژوند بلا غمونه
زما په سر دي

اوبدي ماړه شو
خو ملکان د کلي
د لوږې مړه شو

څمه چې وړاندې
نو اسمان هم راکوز شي
اوبو ته لاندې



قد مې لوښېږي
او جینکۍ د کلي
ما ته پسخېږي

غم مې لږ سپک شو
ما اوښي ته کتل
ځان را نه ورک شو

مخ مې بد رنګ شوی
چې پیرې هوا اوړي
آئینه زنګ شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library
Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېغله چې مانه انتړويو اخلي
ساه په سکېندو شي ځه په ګرانه واخلي
ستا سوځه خيال دے د وادۀ باره کښې

په چاپېرچل کښې خرابۍ دومره دي
په کومه ورځ چې پرې سختې اونکړم
وېم که په خپله ښځه ظلم کوم

سر مې قربان کړم خو د چا دپاره
دلته چې قدر د جذبو نشته دے
خوښې به څوک په درمسال کښې کوي



ته د ژوندون د مايوسو علاج يې
خورې ورې زلفې خورې ورې کا
چې انتظار څوک د سحر نۀ کوي

داسې نځوړ کړم ازمېښتونو د ژوند
شېرينې ستا خانه بدوش يادونه
اوس د زړۀ دشته کښې پړاو نۀ کوي

الله دې خېر اوکړي په صدر چوک کښې
ګماډي ګيا دي اشارې ماتوي
او هسپيان خپلو کښې ګپ لګوي

Scanned by CamScanner

جرم د چا، سزا د چا لویږي دا
یو د پولیس له سترګو ځان ساتي او
بل په یوه پېسه قانون خرڅوي

سپک راته مه ګورئ که غر نه کوو
ګنې خو بونه به مو هم کړو حرام
مونږه د چا میراث خواره خو نه یو

زړه ئې غلبېل، زلفې ئې تار په تار وي
ویل ئې زه د پېره بې خونده یم
ګنې نو ته هم هېرېدې شې له چا



شیرینې اوباسه زکوٰة د حُسن
دا آفتونه نازلېږي ځکه
چې په وطن کښې څوک خیرات نه کوي

سر به بې ځایه درله څه خوږوم
د پښتنو له هوښیارۍ نه لوګې
کورونه وران کړي چې جرې سازوي

په څه پوهېږي نه ماشومه ئې لا
دروغ رښتیا به دې ښکاره هله شي
کله چې ستا ځواني مېوه اونیسي

دَ ژوند دَ حُسن ننداري ځهٔ کوؤ
درانهٔ پښلو ونه مو پراته دي په سر
کالهٔ ته څو که چرته ملا نیغه کړو

پرېږده چې ښغلي ځي په خپله لاره
چهره ئې مه کښې ستومانه به شئ
توري ځمې دي که راپاري شولې

وایم چې ټولي ستوماني به اوځي
خو ولې دا ارمان مې اونهٔ رژي
کور ته چې راشمه نو لا ستړے شم



شیرینه اووایې قربان شم له تا
غزل غزل مې راخوربږي په زړهٔ
ستا هاېکو رانه تېږي هېږي کړي

دوه ورځې ژوند دے تاته بنهٔ پته ده
زړهٔ ته راجخته شه دَ ناز مېږمنې
سرکښي پرېږده دَ شیطان مهٔ منه

زما له ځانه دومره طمع نهٔ وه
خو چې قدم بږدم دَ کابل جینکی
راته په لارو کښې شینډي کلونه

زړه يې له سترګو لګېدو اووښتم
ماله قسم راکړي چې غږ مه کوه
او خپله ټول کلے خبر کړي په ځان

شکر دے سترګې زما اوږې نه دي
غريب سړے يم خو ګل ښانګې زما
د چا عشقونو ته پسخېږم نه

ګڼ تصوير ونه شي خوارۀ په ذهن
عين چې په نيمه شپه زمونږ کلي کښې
د سپو غپا شي، هنګامه جوړه شي



د حس انتها خبره ولې نه ده
غوټۍ چې ګل شي په قيامت کښې د ژوند
ځان راته ويد خدا ګلو پيکه ښکاره شي

زنه مې اونيسي، سلګو کښې وائي
خلق خو خلقو باندې چل زده کوي
کور نه په نيمه شپه بهر مه اوځه

سيند ته ګلونه ورکنډار کړي وائي
څه عملي کارونه هم وي پکار
زمونږه مينې کتابي مينې دي

زړونو کښې اور دَ مينې بل کړی کښې
بې حسي دومره په ماحول خوره ده
سم پکښې خدائې لګو واوره کښېږي سرې

راته ستا ياد داسې سُرور راکوي
لکه دَ ژمي په واورينه شپه کښې
څوک په کمره کښې انګيټۍ بله کړي

پېغلې دَ ښار پارک کښې راټولې وې نن
وښُل ئې راغله يوويشتمه صدۍ
ځې چې دَ کور درشلې اوغورځوؤ



شپېږينې زړهٔ دے نرم شوے نهٔ دے
نماښتي اوښکې عبث تويوې
کاڼي اويو کښې وراسته کېږي کله

شنه چې مې شونډه شي دَ قام دَ ورو
لکه دَ چړګو دَ بچو بُغرۍ شي
اونغلي خپلو کښې ډېران بيلوي

لېز انتظار دَ محرومۍ ئې اوکړه
ترڅو چې چړګه کوړکه شوې نهٔ وي
نو په هاګو باندې بچي نهٔ کښېني

څه اوشو خبر دے کله مې پېژنې نه
مانه دې هاغه ورځې هېرې نه دي
چې په خټکل به مې اوده پرتاه وې

دېره کم عقله ئې زما لېونئ
اوس د چا خولې خو څوک کنځلې نه شي
زما په سر پا سره شر مه کوه

مونږ په جامو کښې نه ځائېږو وپه دې
چې دا ده راغله یو ویشتمه صدي
کور که سو وران شو نو پروا د څه ده



اومنه دا خاطر دې جمع لره
ماله په څه سترګو کښې چق راکوې
ستا په کناره کښې خو اوسېږمه نه

ورته مې اووې حیثیت څه دے ستا
وېل ئې غوارم چې بربنډه نه شي څوک
پرتو غابنو نه جوړوم لا لیه

پېغلو کې ناوې خپل خاوند ته وېل
هر څه چې کېږي پابندي نه منم
زه خو څه ستا لاسوته ناسته نه یم

(c) ketabton.com: The Digital Library
Scanned by CamScanner

زړهٔ مې تښتې اوچوي چې ميږن کښېنوي
شسپږيني خپس به شي دمه پکښې خوره
رب به زمونږه دا نښتې غوټۍ کړي

جذبه جذبه دي د ساحل خوبونه
غورځنګ غورځنګ بهېږي د شپې ځواني ده
سپوږمۍ به دې کښې هم ستړونه کوي

د شپې طوفان چې شي راخور په زمکه
زړهٔ د بې خونده اورکو له غمه
پورته په ستورو کښې پناه اخلم



ګله اودرېږې د نکهت قافلې
ګله د ګل وږمه وږمه خورېږم
خوبونه وینم تعبیرونه وښم

تړوله د زړ او زور خبره ده اوس
ستاسو مخونه په چا نهٔ شوکوم
څوک د جرګو هېڅ پروا نهٔ کوي

د نوي نسل څومره لوے زړونه دي
د پلار نيکهٔ هېر ونه هم ورکوي
په اديرو باندې پلازې اودروي

زما تصویر ته ئې ژړل وېل ئې
پېښه د مرغۍ مې درلوده هم راوړي وو
اے د انځر ګله چې چرته به ئې

خدائ زور ور دي مشران د کلي
چې د لمن داغ ته مې ګوتې نیسي
او نېغه لار راته ښودلے نهٔ شي

مړ نهٔ شم ځائے راکړه د زړهٔ په کوډګنې
تاودهٔ ، ساړهٔ که د ژوند ما اووهي
زما په دېل نمونیا شي کلي



شپږ ینه کوګنجې په تندي راولې
وائې رښتیا رښتیا خبره کوه
ستا د جامو استري په خدٔماته شوه

بې شماره داسې رنګوران شته دے چې
تمیز د جنس او د جمال نهٔ کوي
او وائې ټول خوندونه یو رنګي دي

ستا د ښائست د فریبونو نه زار
خو لږ مې پرېږده چې ځان اوپېژنم
ما د بودۍ په تال کېنې مهٔ ځانګوه

رب دې په دې خبره ما ښه نیسې
پېغلې د ښار داسې پېکه پېکه دي
لکه چې خوند ترې ښه اوبو اوړې دي

منم خبرې زما عادت نه دے خو
چې پښتنې ښکلې لغړې گرځي
اور دې د صدر په بازار پورې شي

نور به عذاب څه نازلېږي په مونږ
ښکلې تور سرې چې سر تورې نه شي
بیا ئې په ښار کښې څوک عزت نه کوي



شپږ پیالې او ښه څوارې به د میانې
یاران کله لرې چرته اوورېږي
نو هسې کاڼي مو د چم پېغې شي

پښتنې ښځې خپل خاوند ته اووئیل
گرانه! کله ماله دې پتلون راوړو نو
په دوه میله ټوپک به ځان اووژنم

درنه واده ښځې لښه اوویسته
جوړې خاوند دې زوړ زوړ اوخته
تا خو د بوټي نه بلا غوښتله

(c) ketabton.com: The Digital Library
Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اووانۍ ټولې دَ قسمت لوبې دي
خلق ګټیا دي سنړاګان لوټي او
زمونږه ننګي مېنې پېه نهٔ کوي

وائي تر څو پورې به زغمېږم
زهٔ درته کور کښې لمغرې کومه
څې په کوڅو کښې لوږغې کوې ته

کم عقلي هسې پرېشانه يې ته
دَ محبت غمونه بوجه خو نهٔ وي
سترګې يې هو باندې درنېږي کله



منم چې ګرنې محرومي مو دي خو
ګلې زمونږه هیروشیما نهٔ دے
چې دَ سپېرلو پکښې وږمې شنډې شي

مينه اوباسي له زړګو نه ويرې
اوس که اوښان ساقې شيرينې زما
نو دروازې دې دَ کور ټيټې نهٔ شي

آخر به مړ شم که دا حال وي زما
هيتکې مې يو ساعت له نهٔ اودرېږي
آ ليونۍ مې هميشه يادوي

Scanned by CamScanner

زهٔ تقاضې دَ محبت پېژنم
شېرینې خنک کښې مې ویرېږي څله
پاخهٔ رنګونه په اوبو کښې نهٔ ځي

○

اوواڼې دومره نادیدکه نهٔ یم
خو اوږې سترګې زمانه چې وینم
دَ سرو چارهٔ په لرمانه منلو مه

○

جوړې دستور نوے کوي وختونه
ما خو مېږے هم ازار کړے نهٔ دے
دَ کلي خلق مې په څهٔ قتلوي



زهٔ دې له ښکار منې کومه نه خو
هسې له تا نه یو تپوس کومه
ستا په سرخکو باندې زړهٔ نهٔ سوزي؟

○

دوړ په بې ځایه وخت دې اورتلم
داسې لل کل شومه شېرینې زما
لکه چې بانګ نه خوک یا نګي اوشړي

○

تهٔ به له لوږې نه مړ شوے نهٔ وے
ښکاري! ښکاره بې انصافي دې اوکړه
مارغانو جالو کښې بچي راوړي وو

پکښې هیڅ لارې د منزل نښته دے
ترې ګېر چاپېر دي د صحرا رېګونه
انسان په ورانې جزیرې کښې اوسي

چې ئې زما ګرمه ګرمي اولیده
نو وار خطا ښېغلې له خپلې ویرې
د ازغکي اوبهٔ په ما اوڅکلې

غلے که ناست یم خو خو تېکسېږمه زهٔ
ما خاموشۍ کانړے کولے نهٔ شي
غرونه لاوا شیندي چې غرېږ اونکړي



زهٔ قدغنونه په چا نهٔ پرېږدمه خو
ښهٔ ته ئې په ښهٔ بد ته به بد وایمه
چېره حیات کښې خلق فرق کوي

پرېږده د نبځې بد دې مه وایه اوس
که دې د لاس لاندې ساتلې شوه نو
داسې به سر باندې به تهٔ ختله

ورته چې وایم ښائسته جینۍ ده
شېرینه وائي دې کښې شک نښته دے
خو لږه پوزه ئې کږه غونډې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځې صفا خبره اوکړه خو
ګنې مطلبونه ترې یاران اخلي
چاته له ویرې اوس سلام نهٔ کوم

ګنې ښاسُتونه مې په سترګو کېنې وي
خو بې وسه یٔ رانځوړ داسې کړي
لکه دَ ناوې ځه په اور اوسوزي

بې حیاء ضد دې داسې ریز مریز کړم
لکه بد بخته پښتنه پېغله چې
له ډېره سوخته خپل بنګړي ماتوي



هېڅ ترېنه طمع دَ انصاف مهٔ کوه
چې عقیده یٔ جوړه شوې وي دا
جنګ کښې روا شي ناروا کارونه

زهٔ پښېل کور باندې تېر اوځمه اوس
هم یوه لار ده هره ورځ پرې ځمه
خو روزانه راته ښهرې بدلوي

وصل یٔ داسې ښهٔ خبره نهٔ وه
خو هېڅ بې هغه چې رابرګ شوې په ما
تا جوړ مځې پسې شو ملې ځکلې دي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ وږش دا لوړے احسان به څوک هېر وي
لا جينکۍ دَ لښتو کالو نهٔ وې
دَ پېغلتوب غوړځنګ ئې ملا ماته کړې

چا له هم نهٔ ورکوې ځائے په زړهٔ کښې
په صفايۍ باندې ئې مه تېروځه
هر و خپل ځځ دَ ايښې نښته دے

سر که مې غواړې نو په خود کښې ائسه
که سيالي دې په ځان راوستلې
سر به هر څهٔ ته ور په خولې کړم زهٔ



زهٔ حادثو را ژوندے کړے يمه
رانه چې لاس دَ مينې رانېکلو تا
دَ سينې چپو راله پناه راکړله

ته خپله لور خور قرمېزنه ګڼه
خو ما څهٔ داسې اورېدلي دي چې
خپله برجو له پردي باتهٔ ښۀ وي

دَ ژوند په هر پړاؤ تنور لمبه دے
دَ بارانونو انتظار مهٔ کوه
چرته وريځې غرغنلړه اونکړي

Scanned by CamScanner

